سیدالرحمن عابد ۲۰۱۶/۱۲/۰۵

لغمان پر کوم لور؟

وژني، بریدونه، ورانۍ او بد خبرونه زموږ دګران هېواد دلر او بر روزمره کېسې دي، لغمان هم کله ناکله د نا امنیو، بریدونو، تروریستي پېښو او وژنو د خبرونو شاهد وي، امنیت یې د دښمن د ډیر تمرکز سره، سره نسبي ښه دی، ټول اداري واحدونه فعال او د ولسوالیو لاري پرانستي دي، د عامه خدمتونو اداري د خلکو پرمخ خلاصي دي او د مراجعینو سره د مامورینو په برخورد او چلند کې د پام وړ ښه والی راغلي، د دولتي مامورینو حاضري د تیر یونیم کال را په دیخوا تر کنترول لاندې ده، د چارو څخه نظارت او ارزیابي بل هغه څه دي چې په وروستي یو کال کې یې ساري په دغه ولایت کې بېساري دي.

د ښې حکومتداری بنسټونه تقویه شوي، په چارو کې تر ډیره شفافیت رامنځته شوی او انکشافي بهیر خورا چټکتیا موندلي.وروستي یونیم کال کې د یو شمېر بنیادي سترو پروژو لومړۍ سروې ګانې چې شاهي کانال،کله ګوش او وطن ګټو بندونه پکې شامل دي ترسره شوي، د سراج تاریخي کلا بیا رغونه جریان لري، د سل بستریز روغتون په ټپه ولاړ کارونه او یا سلنه بشپړ شوي او په مرکز او ولسوالیو کې د یو شمېر ودانیو ترڅنګ د ۳۲ ښوونځیو د احاطو او رغونې کارونه روان دي.

پراخې دولتي ځمکې د غصب راخلاصې شوي او د ۱۲۰۰۰ زره راستنو شویو کډوالو لپاره د ښارګوټي نقشه هم ترتیب شوې چې مستحقینو ته به پکې ژر د نمرو د ویش لړۍ پیل شي، یاده دې وي چې لغمان د هېواد یو له هغو ولایتونوڅخه دی چې تر ټولو لومړۍ پکې د راستنو شویو کډوالو لپاره د شهرک پروژه منظوره او پکې به ټولو ته د هستوګنې د نمرو ویشنه ترسره شي.

د دې ترڅنګ چې د لغمان د پرمختګ په ډګر کې ستر کارونه جریان لري او دغه بهیر کې کوټلي ګامونه پورته شوي، لس زره کورنیو ته د برېښنا شبکه غځېدلې او نهه زره نورو ته د غځېدو په حال کې ده، ولې د دې ټولو سره سره ولس او میشت خلک له ولایتي اداري، امنیتي مسؤلینو او د دغه سکتور له اړوند وزارتونو په کلکه غوښتنه کوي چې د دغه ولایت امنیت ته دې خاصه توجه وکړي او هغه ګواښونه دې لمنځه یوسي چې دعامه نظم د زیانمنیدو، ولسي نارامی او د پرمختګ پروړاندې د خنډ جوړیدو لامل ګرځي.
ښکاره ده چې لغمان دپرمختګ پرلور روان دی.خو یو شمېر امنیتي ننګونو یې پرمختیایي انځورکم کم رنګه کړی ،که اړوند وزارتونه ورسره شوي ژمني عملي کړي،نو ډاډ شته چې تر پوښتني لاندې وضعیت به یې یو مخ پر مثبت لور بدلون ومومي او لازیات به دهراړخیز پرمختګ لپاره فرصتونه رامنځته شي.

ولس د حکومتداری په ټولو چارو کې راګډ شوی. د میرمنو ونډه پراخه شوې او څو، څو ځله د پراخو غونډو له لارې میرمنو، د ښوونځیو ښځینه ښوونکو او زده کوونکو د سولې له روان بهیر د ملاتړ، د میرمنو د حقونو د خوندیتوب او ترلاسه کولو او د نظام په ملاتړ غونډې جوړې کړي دي .د پرمختګ پر لور که د شویو ټولو هغو ګامونو چې د ولس هېلې یې راژوندۍ کړي یادونه کوم شاید تاسو هم ستړي شي، د دې لپاره چې د لغمان انځور مې درته څه ناڅه ښودلې وي وایم د مسؤلینو د پاملرنې پراساس دغه ولایت ته د مرستندویه ادارو توجه دومره زیاته شوې چې ان په روان کال کې خو تر ۱۶۰۰۰ زرو زیاتو بېوزلو، یتیمو، زیانمنو او راستنو شویو کډوالو کورنیو ته د نغدې مرستې ترڅنګ د

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خوراکي او غیر خوراکي توکیو مرستي ویشل شوي او په دې برخه کې په خورا جدیت کار روان دی.

هغه متل چې وایي (څو چې رښتیا راځي دروغو به کلي ړنګ کړي وي)ځیني خلک شته د لغمان په اړه خورا بد، منفي او له تخریب ډکه تبلیغ کوي. د دې پرځای چې ولس ته هیله ورکړي، د امنیت ،حکومتداری او انکشاف په برخو کې یې د شویو لاسته راوړنو خبر کړي، د یو څو مردارو په بدل کې خپل وجدان پلورې او څه یې چې زده وي تولنیزو رسنیو کې پرې زړه یخوي.دا خلک د لغمان مدافعین نه بلکې د دښمن په ژرنده د اوبو برابرونکي دي، ځکه دوی دالاره د خپلې بقا او روزۍ ګټنې یوازینۍ وسیله ګڼي، له ځوانانو ، مشرانو، دیني علماؤ او فرد، فرد مسؤلیت دي چې د هېواد په دې حساسو شرایطو کې د نظام ملاتړ وکړي، د هر پرمختیایي بهیر اوګام هر کلی وکړي او د دښمن د شومو کړنو او تبلیغاتو پر وړاندې لکه سپر ودریږي، چې همدا د ټولو د عزت او روان حالت څخه د راوتنې او خلاصون یوازینې لاره ده.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ